د افغانستان اسلامي امارت

د وياند دفتر

شمار: ۳۹۲ ۱۴۴۴/۲/۱۱هـ ق

**عالیقدر امیر المؤمنین د استخباراتو عمومي ریاست له مرکزي او ولایتي مسؤلینو سره غونډه وکړه**

د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د استخباراتو د لوی ریاست د ځینو مسئولینو او د هېواد د څلور دیرش ولایتونو د استخباراتو له رئیسانو سره غونډه ترسره کړه.

په غونډه کې د اسلامي امارت قاضي القضات شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم صاحب، د چارو اداري رئیس شیخ مولوي نور الحق انور صاحب، د استخباراتو د عمومي ریاست اوپراتیفي مرستیال ملا تاجمیر جواد او د هېواد د ټولو ولایتونو د استخباراتو رئیسانو ګډون درلود.

غونډه د قرآن کریم په څو مبارکو آیتونو پیل شوه، وروسته د استخباراتو مسئولینو له عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله سره د خپلو کارونو او فعالیتونو اړوند خپې وړاندیزونه ،مشورې او معلومات شریک کړل.

وروسته عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله راغلو مسئولینو ته ښه راغلاست ووایه او هر اړخیزه وینا یې وکړه.

د تېر مقدس جهاد شهیدانو، زخمیانو ، معیوبینو ، اسیرانو ، مجاهدینو او د جهاد حامیانو ته یې د ټولو تکلیفونو ، خواریو او خدمتونو د قبولیت دعا وکړه.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په خپله وینا کې د جهاد پر مهال د افغان مجاهد ولس د هر اړخیزو قربانیو یادونه وکړه چې په تېر جهاد کې د ولس هر قشر یې ساري قرباني ورکړې، علماوو د کفارو په وړاندې د مبارزې لپاره بیانونه وکړل او تحریض علی الجهاد یې کاوه، پیرانو ، بزرګانو، سپینږیرو، ځوانانو او ښځو ټولو د جهاد لپاره د خپل وس مطابق قرباني ورکړه.

عالیقدر امیرالمؤمنین توصیه وکړه چې د ولس قربانۍ، خوارۍ او تکلیفونه هېر نه کړئ، د ولس ملاتړ او قرباني وې چې موږ د یوه ستر غربي ښکیلاک په وړاندې بریالي شو او ولس زموږ سره دومره همکاري وکړه چې خپل خانونه ، بچیان او مالونه یې تر موږ قربان کړل ،اوس وخت د دې را رسېدلی دی چې موږ د دوی خدمت وکړو، پر سر یې د شفقت لاس تېر کړو.

دوی په خپله وینا کې زیاته کړه چې ولس زموږ د ملا تېر او راسته لاسونه دي، دوی ساتنه غواړي ، د دوی ټول حقوق ، معنویات، اخلاق، دین او مادیات ټول ساتل اوس زموږ وجیبه ده موږ به د دوی ټول حقوق محفوظ ساتو ، د دوی د حقوقو په اړه به د محاکمو څار کوو چې حق حقدار ته ورسېږي ، د مظلوم مرسته وشي او د ظالم له شره خلاص شي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د شهیدانو د یتیمانو په هکله ووېل چې د یتیمانو کفالت او پر دوی باندې شفقت جهادي روحیه ثابته ساتي، د شهیدانو د اولادونو سره احسان کول د دوی حق دی؛ ځکه د دوی د پلرونو قرباني وې چې د بریا تر منزله ورسېدو، موږ مسئولیت لرو چې د هر یې سرپرسته ماشوم د آینده غم وخورو، تعلیم برې وکړو او پوره توجه ورته وکړو.

موږ او تاسو په داسې مسئولیت کې قرار لرو چې د ولس د هر وګړي پوښتنه به راځخه کېږي ، د دې ولس سوالګر، لیونیان، معتادین او په نشه یې توکو روږد کسان هم پر موږ حق لري چې راټول یې کړو او تداوي یې کړو، نن که په یوه صحرا کې او یا د سړک پر غاړه کوم څوک د همدې نشو له امله مړ کېږي نو هم به یې حساب له موږ سره کېږي؛ همدا رنګه د ګنهګارانو پوښتنه به هم له موږ څخه کېږي چې له ګناه څخه یې نه منعه کوو، ولس د ظالمانو له ظلمه خلاص کړئ، بد اخلاقي بنده کړئ او د فحاشۍ مرکزونه وتړئ.

د شریعت تطبیق ته خاصه توجه وکړئ ، ماته په ټول مسئولین حساب راکوي چې دوی زموږ په دې یوه کال حکومتولۍ کې شریعت څومره پلي کړی دی، د ښځو د حقوقو په هکله زما شپږ مادیز فرمان پوره تطبیق کړئ.

استخبارات هغه ارګان دی چې رأساً په مشرتابه پورې مربوط دی، دوی به له همدې ځایه هدایات اخلي ، د نظام بایې په ټینګوي او د دښمنانو پلانونه به له منځه وړي، دښمنان چې زموږ په هکله کوم شوم پلانونه لري هغه به کشفوي او خنثا کوي.

تاسو ته مې هدایت دا دی چې خلک په شبهاتو مه بندیانوئ بلکې د مؤثقو دلائلو په صورت کې یې نیسئ او محکمې ته یې د فیصلې لپاره وړاندې کوئ. د اسلامي نظام ټول اصول او قانون په نافذوئ او عملي کوئ.